# ايا انسان خواره مو ليدلي؟

**سرچينه: د نوار اسلام وېب پاڼه**

يأيها اللذين آمنوا اجتنبوا كثيرا من الظن إن بعض الظن إثم ولا تجسسوا ولا يغتب بعضكم بعضا أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتا فكرهتموه واتقوا الله إن الله تواب رحيم. حجرات/12
عَنْ أَبِى بَرْزَةَ الأَسْلَمِى رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلِ الإِيمَانُ قَلْبَهُ لاَ تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ وَلاَ تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنِ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِى بَيْتِهِ.«

اِنَّ الْحَمدَ لِلّهِ نَحمَدُه وَ نَستَعِينُه وَ نَستَغفِرُه، وَ نَعُوذُ بِاللهِ مِن شُرُورِ اَنفُسِنَا، وَ سَيِّئَاتِ اَعمَالِنَا، مَن يَهدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَه، وَ مَن يُضلِل فَلاَ هَادِيَ لَه، وَ اَشهَدُ اَن لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللهُ وَحدَه لاَ شَرِيكَ لَه، وَ اَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبدُه وَ رَسُولُه.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ژبې او شرم ځای د سمې ساتنې په صورت کې د جنت ضمانت ورکړی دی، نو اوس تاسې ژبه څومره په واک کې ساتلې ده؟
ژبه ستاسې شخصيت او په جنت او دوزخ کې ستاسو موقعيت تعينوي.
ايا کله هم ستاسې ژبه د الله تعالی په ذکر بوختـه شوي ده؟
آيا ملايکو ستاسې خوا و شا نيولې ده؟ او که هم له هغو غيبت کوونکو څخه ياست، چې غاښونه يې د خپلو مسلمانانو ورونو او خويندو له غوښو څخه ډک دي؟

که په ميلمستيا کې در ته مرداره غوښه کيږدي څه به کوئ؟

اوسمهال غيبت د خلکو د خولې خواړه ګرځېدلي دي او په دې هم ښه پوهېږي چې غيبت يو خطرناک کار او د کبيره ګناهونو له جملې څخه دی، مګر لدې سره سره هم له هغې څخه ځان نه ساتي.
د مثال په ډول که چېرته مو څوک مېلمه کړي، او په خوراک کې يې درته مرداري غوښې تيارې کړې وي، نو د دا ډول مېلمستيا په وړاندې به ستاسو غبرګون څه وي؟ ايا تر اوسه مو هم دا ډول فکر کړی دی، چې هره ورځ د څومره انسانانو مرداري غوښې خورئ؟



د ورځې لس يا يوولس بجې چې دفتر، موسسه، مدرسه، مکتب، شرکت او يا د کار ځای کې سره راټوليږئ، تر څو د ستړيا د لرې کولو لپاره چای، کيک او نور څه خوراکي مواد وخورئ، دا ډيرې خوږې شيبې وي، خو مخکې له دې چې هغه خوږ کېک او خواږه شيان وخورئ د هغې لاندې د انسانانو مردارې غوښې خورئ؟

حيرانيږه مه! هو! غوښه خورئ! هغه هم د خپل مسلمان ورور او خور غوښه، هغه مزه دار او خوږ کېک په زهرجن او مردار کېک بدليږي او له ستوني مو تيريږي؟

دلته هم انسان خوړونکي شته!

ايا د غيبت په اړه، هغه ټو احاديث چې ليدلي دې دي، کله هم په دې توانيدلې يې چې د هغې په نظر کې نيولو سره له غيبت څخه ځان وساتې؟ ايا د غيبت له مجلسونو څخه کله هم پاڅيدلی او يا دې په کې له ګډون څخه ځان ساتلی دی؟ آيا د دا ډول مجلسونو په له منځه وړلو او يا بدلون راوستلو کې دې هڅه کړې ده؟ ايا د مړي د غوښې له خوراک څخه دې کله ځان ساتلی دی؟ يا دا چې له مردار خورو څخه يې!؟ايا د غيبت له مجلسونو څخه کله هم پاڅيدلی او يا دې په کې له ګډون څخه ځان ساتلی دی؟ آيا د دا ډول مجلسونو په له منځه وړلو او يا بدلون راوستلو کې دې هڅه کړې ده؟ ايا د مړي د غوښې له خوراک څخه دې کله ځان ساتلی دی؟ يا دا چې له مردار خورو څخه يې!؟

که څوک درته ووايي، چې په دنيا کې انسان خوړونکي شتون لري، نو د هغه له له دې خبرې په حيران نه شئ؟ ولې حيرانيږئ؟ داخو د حيرانتيا ځای نه دی؟ ځکه ډېر انسانان په يو بل ډول خپله شپه او ورځ د انسانانو د غوښو په خوراک تېروي مګر دې خبرې ته يې هېڅ فکر نه دی.

هيله ده چې مونږ له دا ډول انسانانو څخه نه اوسو.

د غيبت تعريف:

غيبت يوازې دا نه دی، چې د يو سړي پسې بدې خبرې وکړو، بلکې غيبت د خپل يو مسلمان ورور په غياب کې داسې خبره کول، چې په هغه کې وي خو مخامخ پرې هغه خفه کېږي.

يو څو يادونې:

ښايي ځيني خلک ووايي چې زه خو غيبت نه کوم بلکې دا ټول صفات خو په هغه کې شته، هو! د دې صفتونو شتون د هغه غيبت دی، خو که په کې نه وي او په غياب کې يې ويل کېږي نو بيا تهمت دی.
رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو حديث کې د غيبت تعريف داسې کوي:
له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: آيا پوهېږئ غيبت څه شی دی؟ خلکو وويل: الله او رسول صلی الله عليه يې ښه پوهېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د خپل ورور داسې يادول چې د هغه نه خوښېږي، خلکو ورته وويل: که په هغه که هغه خبرې موجودې وي او مونږ يې يادونه وکړو نو بيا؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که هغه خبره، چې ته ورپسې کوې په هغه شخص کې موجود وي غيبت دي، او که هغه صفت په کې شتون ونه لري نو بيا دې پرې تور )تهمت) تړلی دی.
ځيني خلک بيا وايي، چې د هغه د ګټې او د هغه د اصلاح کېدو لپاره يې وايم، ددې خلکو په ځواب کې بايد وويل شي: که چېرته د نوموړي د اصلاح غم درسره وي، نو مخامخ ورته په ډېر ښکلي ډول ووايه چې وروره دا غلطي دې سمه کړه.
ځينو خلکو ته بيا که وويل شي، چې غيبت مه کوه نو وايي، چې زه خو يې مخامخ هم ورته وايم، مګر په حقيقت کې يې د مخامخ ويلو جرات هم نه لري.
ځيني خلک د دې لپاره چې ځانونه ډېر خبر لوڅ او چالاکه وښايي نو هر څه وايي او هر ډول غيبت کوي، او بيا ورسره دا هم وايي، چې څه دروغ خو نه وايم دا خو په کې شته دی، له دې نه دی خبر، چې دا د ابليس خولی يې پر سر کړې او د شيطان نمايندګي کوي، لاندې روايت ته په ځير سره




متوجه شئ.
له انس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دی، چې فرمايي: د عربو دود و، چې په سفر کې به يې له ځان سره يو خدمتګار هم ساته، له حضرت ابوبکر صديق، او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره به هم په سفر کې خدمتګاران موجود و، يوه ورځ له خوبه راپاڅېدل، ګوري چې ډوډۍ يې نه ده تياره، نو يو بل ته يې وويل، لکه چې خوبونه وهي؟ خدمتګار يې را ويښ کړ او ورته يې وويل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورشه او ورته ووايه، چې ابوبکر او عمر خوراک غوښت (هغه خدمتګار لاړ او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې هغه خبره ور ورسوله) نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل، چې هغوی خو خوراک کړی دی، ابوبکر او عمر د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې خبره ډېر حيران شول او دواړه هغه صلی الله عليه وسلم ته راغلل ورته يې وويل، چې هغه کس مې درته رالېږلی و چې له تاسو څخه خوراک وغواړي او تاسو ورته ويلي و چې هغوی خوراک کړی دی، مونږ څه شی خوړلی دي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: د خپل ورور غوښه !په هغه ذات مې د قسم وي، چې زما نفس د هغه

لاس کې دی، چې زه د هغه کس غوښه ستاسو په غاښونو کې ګورم، دواړو ورته وویل، چې ای د الله رسوله! مونږ ته ښنه وکړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، چې هماغه کس باید درته ښنه وکړي.

د غیبت په هکله احادیث

•رسول الله صلي الله علِه وسلم د ژوند په اخري کال، د ذالحجې په میاشت کې د منی په ځمکه او د اختر په ورځ د مسلمانانو يوې سترې غونډې ته يوه خطبه او ګڼې توصيې وکړې او د خلکو عزت او ابرو يې د خلکو له مال او وينې سره برابره وګڼله.
له ابن عباس رضي الله عنهم څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوی اختر په ورځ خلکو ته په خطاب کې وفرمایل: ای خلکو! نن د څه شي ورځ ده؟ خلکو ورته وویل: د حرام ورځ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دا کوم ښار دی؟ خلکو وویل: حرام ښار، بیا يې وفرمایل: دا کومه میاشت ده؟ خلکو ورته وویل د حرام میاشت .نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستاسو وينې، مالونه او ستاسې عزت او ناموس پر يو بل باندې حرام دي، لکه ددې ورځې په شان، په دې ښار او په دې میاشت کې، بیا يې دا جمله څو ځل تکرار کړه، بیا يې د اسمان په لور وکتل او ويې فرمایل: ای خدايه! ايا ما ستا دين دې خلکو ته ورساوه؟ ايا ما ورساوه؟.
په دې حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو عزت او ابرو د هغوی له وینو او مال سره برابره ګڼلې ده، ايا بيا هم غواړو، چې د مسلمانانو غوښې وخورو؟!
رسول الله صلی الله علیه وسلم، خبرې کولې، دومره په لوړ اواز يې خبرې وکړې، چې حتی د خلکو کورونو ته يې غږ رسېده، خه يې غوښتل چې ويې وايي؟ ولې هغه صلی الله علیه وسلم دومره په لوړ اواز خبرې کولې؟چې حتی ښځو هم په کورونو کې اورېدلې؟ کومه داسې مهمه پېښه واقع شوې وه؟
•د ابي برزه اسلمي رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوړ اواز خبرې کولې، تر دې چې ښځو هم اورېدې و يې فرمایل: ای هغه ډلې، چې په ژبه مو ایمان راوړی دی، او زړونو ته نه دی ښکته شوی، د خپل مسلمان ورور غیبت مه کوئ، او د هغوی په رازونو پسې مه ګرځئ،څوک چې د چا رازونو پسې ګرځي، الله تعالی د هغه رازونه را لوڅوي، او الله پاک چې د چا په رازونو بسې شو، تر دې چې په خپل کور کې يې رسوا کړي.
اورېدلي به مو وي، چې د سود خوړونکو سره الله پاک د جنګ اعلان کړی دی،نو د انسان د عزت سود اخستل، د هغه د پیسو د سود اخستلو څخه ډېر بد دي،سبحان الله؟ ولې لږ له ځان سره فکر نه کوې او د ژبې پرې دې دا ډول شکولي دي؟؟اورېدلي به مو وي، چې د سود خوړونکو سره الله پاک د جنګ اعلان کړی دی،نو د انسان د عزت سود اخستل، د هغه د پیسو د سود اخستلو څخه ډېر بد دي،سبحان الله؟ ولې لږ له ځان سره فکر نه کوې او د ژبې پرې دې دا ډول شکولي دي؟؟
•له براء بن عازب څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: سود ۷۷ ډولونه لري، چې د هغې تر ټولو کمه چې هغه د خپلې مور سره زنا کول، او تر ټولو لويه يې د خپل ورور پر عزت تیری دی.
•د سعید بن زید څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، چې تر ټولو بد ترين سود هغه د خپل مسلمان ورور عزت او ابرو له منځه وړل دي.

که روژه دې نیولي وي، او د خوراکي توکو وړې وړې ټوټې په غاښونو کې پاتې وي او هغه دې د ژبې له خوځولو سره تېرې شي نو د عالمانو پسې ګرځي، چې د روژې حکم به مې څه وي؟
ایا تر اوسه دې داسې هم فکر کړی دی، چې غیبت کوې ، د خپل مسلمان ورور غوښې دې په غاښونو کې نښتي دي، او په ډېر ارام سره یې له ستوني تېروې او په اړه یې هېڅ فکر هم نه کوې! که ته یې په خپله نه وینې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د معجزې په ډول ویني.که روژه دې نیولي وي، او د خوراکي توکو وړې وړې ټوټې په غاښونو کې پاتې وي او هغه دې د ژبې له خوځولو سره تېرې شي نو د عالمانو پسې ګرځي، چې د روژې حکم به مې څه وي؟
که څه هم چې ته یې نه وینې، مګر په باوري توګه وایم، چې د غیبت بد اثار په په خپل زړه، او روح کې احساسوې، البته که چېرته ژوندی زړه ولرې (وقال قرینه ربنا ما أطغیته ولکن کان فی ضلال بعید) ق/27

•له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی، چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یوه مجلس کې وو، چې یو سړی له مجلسه پورته شو او لاړ، وروسته ورپسې یو کس څه خبره وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، چې غاښونه دې خلال (په اوسنۍ اصطلاح ډکی په کې ووهه) کړه هغه کس وویل، چې له څه شي، یې خلال کړم؟ غوښه خو مې نه ده خوړلې ! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: د خپل ورور غوښه دې خوړلې ده.

پوه شه، چې مرګ، قیامت، او حساب کتاب شته دی

څومره زر، به ملک الموت درپسې راشي، له دې نړۍ به دې پورته او په برزخ کې به دې کوز کړي، قیامت به شي او د حساب او کتاب په ورځ به الله ستاسو له ټولو خبرو او کړنو پرده پورته کړي.
په دې هم پوه شه! چې غیبت کوونکي، په برزخ کې هم سم حالت نه لري، د هغوی اوږده نوکان به له مسو او فولادو څخه جوړ شوي وي، چې د ځیرونکو حیوانانو له نوکانو به ډېر قوي او خطرناک وي، ایا په لامل یې پوهېږې؟ دا ددې لپاره چې خپل بدن پرې وتوږي او له دې لامله ورته سخت درد ورسېږي.

•له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څه وخت چې پورته یوړل شوم (د معراج په شپه) د یوې ډلې له څنګ څخه تېرېدم، چې له مسو څخه جوړ شوي اوږده نوکان یې لرل، او په هغې یې خپلې سینې ګرولې، له جبریل علیه السلام نه مې پوښتنه وکړه: دا څوک دي؟ هغه وویل: دا هغه کسان دی، چې د خلکو غوښې یې خوړلې او د خلکو عیبونه به یې لټول.

یادونه: که دا د عامو انسانانو د غیبت سزا وي، نو د علماؤ دغیبت سزا به څه وي؟ د عالم غیبت مه کوه، ځکه د عالم غوښه زهرجنه ده، او له دې لامله به دې دین او دنیا دواړه خراب کړې.

د غیبت کوونکو پر وړاندې زمونږ وظیفه څه ده؟

الف- د هغه مسلمان ورور له عزت او ابرو څخه دفاع
د اسماء بنت یزیدل رضي الله عنها څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د خپل مسلمان ورور په غیاب کې د هغه له ابرو څخه دفاع وکړي، نو د دوزخ له اور څخه خلاصون یې د الله په ذمه دی.

ب- غیبت کوونکی شخص ته نصیحت وکړو او ګوت څنډنه ورته ورکړو.
له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې وویل: چې ستا لپاره همدومره بس دی، چې په صفیه (مېرمن) کې دا او دا خبرې شته دی (راویان وایي چې مطلب یې له دا او دا څخه د هغې لنډ قد و) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دا سې څه دې په ژبه وویل، چې که د دریاب له اوبو سره ګډ شي نو د دریاب او به به ترخې او بدبویه کړي، عایشه رضي الله عنها وایي، چې بیا مې ورته د یو کس قیصه وکړه نو ویې فرمایل چې، زما دا نه دي خوښ، چې د بل چا قیصې وکړم او خپله هم داسې او هسې یم.

له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې د صفیې بنت حیي اوښ مریض شو، نو له حضرت زینب رضي الله عنها سره بل اضافي اوښ و، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته وفرمایل چې ته دې خپل اضافي اوښ ورکړه، هغې ورته وفرمایل، چې: هغه یهودۍ ته خپل اوښ ورکړم؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر په غوصه شو، او د ذی الحجی، محرم او د صفر میاشتې یو څه برخه یې له هغې څخه لرې تېره کړه.

ج- که چېرته د غیبت کوونکي شخص د منع کولو وس نه لرو، نو مخکې له دې چې په غیبت کې ورسره شریک شو، باید له مجلس څخه پاڅېږو.

عمرو بن شعیب رضي الله عنه له خپل څخه روایت کوي، او هغه له خپل پلار څخه روایت کوي، چې دوی یو کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې یاد کړ، چې تر هغې خوراک نه کوي، چې ورته تیار شوی نه وي، او تر هغې سفر نه کوي، چې خلک ورته د سفر وسایل برابر نه کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د هغه غیبت مو وکړ، نو خلکو ورته وویل: ای د الله رسوله! مونږ هغه څه درته یاد کړل چې په هغه کې شته دی !رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: همدومره دې بس دی، چې د خپل ورور هغه څه یادوې چې په هغه کې شته دی.

د غیبت یو شمېر اسباب او لاملونه

الف: په غوصه کېدل: کله چې څوک د څه شي په واسطه له چا سره په غوصه شي

له معاذ بن انس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، څوک چې د غوصې په حالت کې ځان کنترولولی شي او بیا په عملي ډول ځان کنترول کړي، نو د قیامت په ورځ به الله تعالی د ټولو خلکو په وړاندې هغه ته اواز وکړي او ددې واک ورکوي، چې د حور عین څخه هر یوه د ځان لپاره غوره کوي غوره کړي.

ب- له خپلو ملګرو سره د موافقې لپاره
ولې د خلکو خوښه د الله پر خوښې وړاندې کوئ؟!

ج: د نورو د خندولو او د مجلسونو د ګرمولو لپاره
بهز بن حکیم له خپل پلار او له خپل نیکه څخه روایت کوي، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي، چې څوک چې د خلکو د خندولو لپاره دروغ وایی، هلاکت دی د هغه لپاره، هلاکت دی د هغه لپاره.

د- د نورو سره حسد، مګر خپل نېک اعمال له منځه وړي.

د غیبت د اورېدو حکم

الله تعالی فرمایی:
تقف ما لیس لک به علم إن السمع والبصر والفؤاد کل اولئک کان عنه مسئولا) إسراء/36
نو دواړه په ګناه کې برابر دي.

د غیبت په اړه پخواني اقوال

۱ -وایی، چې یو تن حسن بصري رحمه الله ته وویلې چې اورېدلي مې دي، چې زما غیبت کوې؟ حسن بصري رحمه الله ورته وویل: ته ددې ارزښت نه لرې، چې خپلې نېکۍ تاته درکړم
۲ -غیبت د فاسقانو مېلمستیا ده
۳ -یو کس د یو عالم پر وړاندې د یو تن غیبت کولو، عالم ورته وویل: له رومیانو سره دې جهاد کړی دی؟ هغه وویل نه! ایا له ترکانو سره دې جهاد کړی دی؟ هغه وویل نه! نو عالم ورته وویل: رومیان او ترکان درنه روغ ګرځي مګر خپل مسلمان ورور درنه په امن کې نه دی؟
۴ -که د روژې نیولو وس نه لرې نو د خلکو غوښې مه خوره.
۵ -له عمرو ابن العاصیب څخه روایت دی، چې دی له خپلو ملګرو څخه له یوه ځاي څخه تېرېده، چې یو مردار قچر په کې پروت و، نو خپل ملګرو ته یې وویل، له دې چې څوک د یو مسلمان ورور غوښه وخوري دا ډېره غوره ده، چې دا مردار قچر وخوري.

له غیبت څخه توبه:

دا به ډېره غوره وي، چې له ټولو ګناهونو څخه توبه وباسو؟ ځکه کېدی شي، مرګ ډېر زر راپسې راشي، خپلوان او کلیوال به یو څو ورځې را پسې وژاړي، مګر پس له څو ورځو به مو بېرته هېر کړي، ځکه په خپله همدا اوس وګورئ، چې خپل تر ټولو نزدې ملګري او خپلوان مو په خپله خاورو ته سپارلي دي، نو راځئ چې توبه وکړو.

د توبې شرطونه:

١ -له ګناه څخه ځان ژغورنه،٢- د ګناه له عمل څخه په رښتيني ډول پښېماني، ٣- په زړه کې پخه اراده کول چې بيا به داسې ګناه نه تکراروي.۴- د بندګانو حقوق اداء کول.

د هغه کس چې غيبت يې شوی دی، علماء دوه ډول نظرونه لري.

الف: دا چې هغه ته ووايو، چې ستا غيبت را څخه شوی دی، او خپل حق دې راته وبښه
ب: د همغه شخص نېکۍ بيان کړو، او د خير دعا ورته وکړو.
ځکه که چېرته هغه کس ته وويل شي چې ما دې غيبت کړی دی، کېدی شي په زړه کې يې کينه پيدا شي، او اسلام د انسانانو تر منځ محبت او دوستي غواړي، مګر دا هم ددې دليل نه شي، کېدی چې څوک دې غيبت وکړي او بيا ورته دعا وکړي، چې ګناهونه يې ښنل شوي دي، له همدې لامله سړی بايد غيبت ونه کړي، مګر که کله يې وکړ، نو سمدستي دې، پورته کار وکړي.

څنګه غيبت پرېږدو؟

١ -هغه آيت او احاديث چې د غيبت په اړه دي په ياد ولرو.
٢ -د ژبې د کنترولولو لپاره د صحابه و، تابعينو او پخوانيو نېکو خلکو ژوند ولولو.
له اسلم څخه روايت دي، چې يوه ورځ عمر رضي الله عنه د ابوبکر رضی الله عنه سره په داسې حال کې مخ شو، چې ژبه يې را کش کوله، نو عمر رضی الله عنه پرې غم وکړ چې مه کوه دا څه کوې؟! نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل:دې ژبې خو زه هلاک کړم، او له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې اورېدلي دي، چې چې د بدن هېڅ غړی داسې نه دی، چې پر ځان د ژبې له تېزوالي څخه شاهدي ورنه کړي.له عبدالله بن وهب څخه روايت دی چې وايي ، هڅه مې وکړه، چې غيبت پرېږدم مګر ونه توانېدم، د هر غيبت لپاره مې يوه يوه روژه ونيوله مګر څه ګټه يې ونه کړه، تر دې، چې د هر غيبت پر ځای به مې صدقه ورکوله، چې ددې لارې د مال مينه ددې سبب شوه، چې غيبت پرېږدم.
له عبدالله بن وهب څخه روايت دی چې وايي ، هڅه مې وکړه، چې غيبت پرېږدم مګر ونه توانېدم، د هر غيبت لپاره مې يوه يوه روژه ونيوله مګر څه ګټه يې ونه کړه، تر دې، چې د هر غيبت پر ځای به مې صدقه ورکوله، چې ددې لارې د مال مينه ددې سبب شوه، چې غيبت پرېږدم.
٣ -د غيبت په وخت ځان ته ووايه:
آيا د مردارو د غوښو خوراک دې خوښ دی؟
آيا غواړې چې نور خلک ستا غيبت وکړي؟
آيا غواړې، چې په قبر کې په عذاب کړی شي، او د قيامت په ورځ تر ټولو غريب شخص ته يې؟
له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، چې ايا پوهېږئ، چې مفلس څوک دی؟ نو خلکو ورته وويل، زمونږ تر منځ هغه څوک مفلس دی، چې پيسې او جامې ونه لري، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زما په امت کې مفلس (غريب)

هغه څوک دی، چې د قیامت په ورځ به له روژې او زکات سره یوځای راشي، مګر په داسې حال کې، چې ده ته يې کنځلي کړي، په دې بل یې د زنا تهمت تړلی، د هغه بل یې مال خوړلی، دده یې وینه توی کړې، او دا یې وهلی دی، ده ته یې هم نیکۍ ورکول کیږي، او دې بل ته یې هم نېکۍ ورکول کیږي، که مخکې له دې، که نېکۍ یې مخکې له دې چې هغه څه چې پر غاړه یې دي خلاص شي، نو د هماغه خلکو ګناهونه دده پر غاړه واچوي. او له دي وروسته د دوزخ اور ته واچول شي.

ددې او دا ډولو نورو په زرګونو سوالونو ځوابونه خامخا منفي دي، نو ولې بیا هم غیبت کوې؟ لږ سر په ګرېوان کې ښکته کړه او له ځان سره فکر وکړه!...

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په دې ښکلې خبره خپله خبره لنډوو ، چې وايي:

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، چې : قسم په هغه ذات چې له هغه پرته بل خدای نشته، چې د ځمکې پر مخ د ژبې له زندان څخه پرته بل اوږدمهاله زندان نشته.

دا هم په پایله کې یو مجلس

د غیبت ناسته= شیطاني ناسته

د مجلس موضوع: د خپل مسلمان ورور ابرو له منځه وړل

د مجلس رییس: شیطان

د مجلس مدیر: نفس اماره

د مجلس منشي: هوا او هوس

د مجلس وخت: فارغ وخت

د مجلس ځای: هر چېرته چې خدای هېر وي

د مجلس ګډونوال: د کمزوري ایمان خاوندان

د مجلس د هرکلي مواد: د خپل مسلمان ورور غوښه

په دې مجلس کې له ګډون څخه په جدي توګه ځان وساتئ.